## بسم الله الرحمن الرحيم

## تر ټولو کم څه چې د خپلې خور لپاره مې کولای شم

## (ژباړه)

ناڅاپه يې وليده... زموږ يوه خور داسې وايي: «له څو مسلمانو خويندو سره مې ولاړه وم، خبرې مې کولې، چېرته چې موږ وو، له يوې بڼخې سره يوه بله خور هم راغله ځان يې راوپېژانده، داسې يې وويل: «نوم مې اسيه ده، د ختيځ ترکستان يم. ...»

له پېژندنې سره مې سم ځان په لړزه شو او حيرانه شوم. ځکه تمه مې نه وه، چې د ياد هېواد له خور سره به خبرې وکړم. ... له ځان پېژندنې سره سم مې د دغې خاورې د ورونو او خويندو ستونزې په ذهن کې راتاو شوې او د کيسې په اورېدو مې له سترګو اوښکې رواني شوې او ډېره غمجنه شوم.

هغې خپله کيسه داسې پيل کړه: «کورنۍ مې راته وويل: زموږ حال وينې، لکه د پسونو د ګلې په څېر ده، چې هره شېبه د ذبحه کېدو شېبې شماري. ... که د ځان ژغورنې لپاره هجرت کولای شې ويې کړه. د هغه ځای مسلمانان پر اسلام د باور له امله او د دعوت د لېږد له امله د چين په کمپونو کې بندي شوي.»

خور مو دوام ورکړ او ويې ويل: «ما يې نصيحتونو ته غوږ ونيو او خپله خاوره مې پرېښوده... څلور کاله او شپږ مياشتې کېږي، چې زه مې له کورنۍ لرې يم... د خپلې خاورې له پرېښودو وروسته مې له کورنۍ هېڅ خبر نه لرم... چين خپل خبرونه بند کړي او له زندانيانو سره د خپلو کورنيو اړيکو ته اجازه نه ورکوي. مخکې تر دې چې کورنۍ مې پرېږدم، وصيت يې دا و چې پر مسلمانانو ورونو مو سلام وايه، زموږ له حال او ستونزو يې خبر کړه.» هغې د خپلې غمجنې کيسې په پای کې وغوښتل، دعا وکړئ، چې الله سبحانه وتعالی زما د خپلوانو او د ايغور ټولو مسلمانانو ستونزې حل کړي.

څومره کوچنی غوښتنه، ايا يو نيم ميليارد دې امت له دعا پرته بل څه په لاس کې نه لري...؟ تر شکنجې لاندې زامن يې له دعا پرته د څه شي تمه نه لري؟! ايا موږ دومره ذليل شوي يو؟!

ای عمرو بن سالمه ته څومره نيکمرغه وې، کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په شکايت راغلې او هغه صلی الله عليه وسلم د مقتدر او کريم دولت په راس کې و. خپله کيسه دې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وکړه او هغه صلی الله عليه وسلم په ځواب کې درته وويل: «که مرسته غواړې در سره وبه شي ای عمرو بن سالمه...» په لنډ وخت کې مکه فتح شوه. رسول الله صلی الله عليه وسلم د خزاعه قبيلې وار له بني بکر قبيلې او د هغوی له ملګرو قريشو څخه واخيست.

تر هغه لږ وخت وروسته، يوې مسلمانې ښځې چې دې يهوديانو په بازار بني قينقاع کې يې عزت ته سپکاوی شوی و، مرسته وغوښته. پيغمبر صلی الله عليه وسلم داسې لښکر ور واستاوه، چې ژر بېرته راونه ګرځېد، څو يې چې د بني قينقاع قبيله ونه شړله، هغه قبيله چې غوښتل يې د مسلمانانو پر پټ لوبې وکړي.

هغه ښځه څومره نېکمرغه وه، چې له معتصم او د هغه د پوځ له رهبر څخه يې مرسته وغوښته. کيسه يې مشهوره ده، چې د مسلمانانو خليفه لوی لښکر تيار کړ، چې تر ټولو غوره يې سل «برګ» اوښان وو، په پايله کې يې مسلمانه ښځه وژغورله او له هغو کسانو يې غچ واخيست، چې د دې عزت يې تر پښو لاندې کړی و.

د اندلس امیر حاجب المنصور یوه ورځ له اسپانویانو سره له جهاده راوګرځېد. له خپل عادت سره سم له بریا وروسته چې کله قرطبې ته راورسېد، د لوی اختر ورځ وه، خلک په عیدګاوو کې وو. د تکبیر ناري او خوښي یې پیل کړه. څو چې امیر له اس څخه راښکته کېده، یوه زړه ښځه یې مخې ته ودرېده او په دردېدلي زړه یې ورته وویل: «ای منصوره! ټول خلک خوشحاله دي؛ خو زه.»

منصور وویل: ولې؟

زړې ښځې وویل: «زوی مې په رباح کلا کې له صلیبیانو سره اسیر دی.»

پر هېزګار او قهرمان والي چې د اسلامي امت پر وړاندې د مسوولیت، د امت له حیثیت او دین څخه د دفاع په قدر پوهېده، له ځنډ پرته یې د اس مخ د دغې کلا په لوري کړ او اعلان یې وکړ، چې څوک له خپل آس څخه راکوز نه شي. د رباح کلا په طرف ورغی او دښمنان یې اړ کړل، چې ټول بندیان شوي مسلمانان خوشي کړي، چې د دغه زړې ښځې زوی هم پکې و. تر هغې راضي نه شو، څو یې د زړې ښځې په شونډو موسکا او خوشحالي رانه وستله.

پورته کیسې د مسلمانانو د حال نمونې دي. کله یې چې دولت درلود او پام یې پورته کاوه. د مسلمانانو ملاتړ یې کاوه. هغه دولت چې اوس یې نه لرو او یوازې د هر مسلمان لپاره نه ماتېدونکې کلا او د امن زرې دی او زموږ د ایغوري مسلمانانو هیله هم ده. ... له هغه پرته به د چین کافر حکام څوک وګواښي؟ که د ایغور مسلمانان ازاد نه کړي او نور ظلم پرې ونه کړي، د دغه هېواد پوزه به په خاورو وموښي...؟ له هغه پرته به څوک جرت وکړي، چې ټولې نړۍ ته چلنج ورکړي، هغه هم د یوه سپین ږیري د کرامت لپاره چې روژې ته نه پرېښودل کېږي. یا پاکلمنې ښځې چې حجاب اغوستلو ته نه پرېښودل کېږي یا هم د هغه ماشوم لپاره چې له مور او پلاره یې جلا کوي، څو په کمونیستي فکر تربیه شي...؟ له هغه پرته به څوک د هغو اوښکو لپاره پراخو جګړو ته لمن ووهي؟ چې د مور، خور، لور، ښځې او نجلۍ له سترګو بهېږي. یا هم د هغه سرې لپاره چې له ناهیلۍ اوښکې تویوي او خپلو مسلمانانو ورونو ته پیام لېږي، چې له دغه ستونزو د خلاصون لپاره یوازې دعا ورته وکړي.

زموږ ایغوري ورونه په کمپونو کې زنداني کېږي. د دوی په ګونډو کولو لپاره، چین پر شرقي ترکستان وحشیانه او ښکېلاکګر بریدونه کوي. منع کوي یې، ترڅو د چین له کمونیستي او کافر نظام څخه خپلواکي ونه غواړي. چین غواړي دوی تر خپل حاکمیت لاندې راولي، څو کاملاً دوی ته تسلیم شي او کمونیستي نظام ومني. خو نه دي توانېدلي چې مات یې کړي... کله چې پوه شول، د مسلمانانو توان د دوی په دین او قوي عقیده کې دی؛ نو د دوی لپاره یې له ترهګرۍ او دیني تشدد سره د مبارزې په پلمه او د «سیاسي او د لاتوان ورکولو زده کړو» په نامه کمپونه جوړ کړل. چې په حقیقت کې د مغز مینځلو او د دین او عقیدې د هېرولو لپاره پلان و.

د مسلمانانو لپاره یې داسې قوانین وضع کړل، چې له لمانځه یې راګرځوي، اړ کوي یې چې د روژې په میاشت کې روژه ونه نیسي. د حلالې غوښې له خوړو یې منع کوي، د خوګ غوښې خوړلو او د شرابو څښلو ته یې اړباسي. دغه راز یې اړباسي، چې د عفت جامې لرې، د فحشا او فساد جامې واغوندي... د حجاب اغوستل، ګنډل او پلورل یې منع کړي دي... هغه څوک چې په دغه قوانینو عمل ونه کړي، د «نوي توان بښلو» په اصطلاح کمپونو ته یې استوي او له اذیت او وحشت څخه ډک خپل مجرم قوانین پرې پلي کوي. حتا ځینې له دغې بدمرغۍ څخه د خلاصون لپاره د مرګ هیلې کوي. د دغو کمپونو شعار دادی: «لکه دې یوې مدرسې درس ورکوي، لکه پوځ مدیریت کېږي او د یوه زندان په څېر ترې ساتنه کېږي!»

د دغو کمپونو تر منځ او له بهر سره یې د کومې اړیکې پر نشت سربېره بیا یې هم اخبار راوځي. خو هېڅوک د دغه مظلوم قوم د ژغورلو لپاره ګام نه پورته کوي؛ نه د عثمانیانو اردوغان! نه د حرمینو خادم سلمان! نه د ال بیت لمسی عبدالله...! حتا محمد سادس، چې د امیرالمومنین دعوه کوي، غږ نه پورته کوي...! نو څنګه به دوی د مسلمانانو ژغورلو ته ور ودانګي. په داسې حال کې چې

دوی لومړني کسان دي، چې له مسلمانانو سره جنګیږي او د دبدبې د راز او د راتلونکي ځواک په مقابل کې درېږي...! هو، ایا خاین حکام د خلافت د تاسیس لپاره د دعوتګرو پر وړاندې نه درېږي؟!

اې ایغوري ورونو! څومره کم طالع یئ، چې د خلافت په نشت کې چې د مسلمانانو ملاتړی دی پر تاسو ستونزې راغلي دي. که مو غږ شجاع رهبر سعد او اسید وانه وري، د ظالمانو د تاج او تخت پرنګولو ته در ونه دانګي او د خلافت ځلانده لمر راونه ګرځوي، ستونزې به مو اوږدې شي... . خو الله سبحانه وتعالی ته ډېره هیله لرو، چې زموږ افسرانو ته لوی زړونه ورکړي او ویره ترې لرې کړي، څو موږ ته بیا خلافت راوګرځوي او زموږ د عزت ورځې بیا پیل شي... ټول مسلمانان د ښکېلاک له ولکې ووځي، د شرم او خوارۍ ورځې پای ته ورسیږي. دا امت د خورا ښه امت په حیث، چې د خلکو لپاره راوتلی، راپورته شي.

**لیکواله: اسماء الجعبه**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ژباړن: حبیب الله**